# قسم په الله زه چې يم-إِنْ شَاءَ اللَّهُ- هېڅ قسم نه يادوم مګر کله چې راته له هغې غوره معلومه شي، بيا د قسم کفاره ورکوم، او هغه کار کوم چې ښه راته معلوم شي

له ابو موسی الأشعري رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چې: زه د اشعريانو له يوې ډلې سره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلم او د سپرلۍ غوښتنه مې ترې وکړه نو ويې وفرمايل: «په الله قسم چې سپرلۍ به در نه کړم، ما سره سپرلۍ نشته چې دريې کړم» بيا موږ هلته پاتې شو تر څو چې الله غوښتل، نو اوښان ورته راوستل شول او موږ ته يې د دريو اوښانو د راکولو امر وکړ، کله چې ترې روان شو، مو ځينو يو بل ته وويل: قسم په الله، که الله راته پکې برکت واچوي، ځکه موږ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلو او د سپرلۍ غوښتنه مو ترې وکړه، هغه قسم وکړ چې سپرلۍ به نه راکوي خو رايې کړه، نو ابو موسی وويل: موږ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلو او د دې خبرې يادونه مو ورته وکړه، نو ويې فرمايل: «دا زه نه وم چې تاسو مې سپاره کړئ، بلکې الله تعالی سپاره کړئ (يعني سپرلۍ يې په واک کې درکړې قسم په الله زه چې يم-إِنْ شَاءَ اللَّهُ- هېڅ قسم نه يادوم مګر کله چې راته له هغې غوره معلومه شي، بيا د قسم کفاره ورکوم، او هغه کار کوم چې ښه راته معلوم شي».

[(صحيح) [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]]

ابو موسی الأشعري رضي الله عنه فرمايي چې هغه د خپلې قبيلې له يوې ډلې سره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغی او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې له ورتګ څخه موخه دا وه چې هغوی ته د سپرلۍ لپاره اوښان ورکړي او په جهاد کې برخه واخلي، نو هغه عليه الصلاة و السلام قسم وکړ چې ور يې نه کړي او دا چې له هغه سره سپرلۍ نشته تر څو يې ورکړي او پرې سپاره شي. نو دوی بېرته راستانه شول او يو څه وخت (هملته) پاتې شول، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ته درې اوښان راوستل شول، نو هغه يې دوی ته ورولېږل، نو ځينو يې يو بل ته يې وويل چې: الله به موږ ته په دې اوښانو کې برکت نه اچوي، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم قسم کړی و چې موږ به نه سپروي (د سپرلۍ لپاره به څه نه راکوي)، نو ورته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه، نو هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه چا چې تاسو ته سپاره کړي ياست (سپرلۍ يې درته پيدا کړې) هغه الله تعالی دی؛ ځکه هغه هغه ذات دی چې توفيق او روزي ورکوي، او زه چې يم يوازې يو سبب يم چې زما په لاسونو يې تر سره کوي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زه چې يم قسم په الله - إن شاء الله - چې په هيڅ شي قسم نه يادوم چې دا کار به کوم او يا به يې نه کوم، او بيا وروسته راته څرګنده شي چې په کوم څه مې قسم کړی له هغه خير او غوره دی چې قسم مې پرې نه دی کړی، مګر دا چې هغه څه کوم چې هغه غوره وي او هغه پرېږدم چې قسم مې پرې کړی وي او د قسم کفاره ورکوم.